## د خپل ځان لیکوال شه ( دویمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضیحات | زده کوونکي به د کیسي ویلو عناصر سره له کرکټرونو، داستان، د ویونکي ژبې تخنیکونه او د بې کلمو یا انځوریزو کتابونو په تخلیقي توګه لیکل زده کړي. |
| مخکښه پوښتنه | کوم څه یوه کیسه زړه پورې کوي؟ |
| د اړتیا ټول وخت | په ۵ ورځو کې پنځه ساعته |
| د اړتیا توکي | کاغذ، رنګه پنسلونه/ رنګې |
| د زده کړې پایله | - د کیسي ځانګړتیا سره له کرکټرونو، عنوان، پیل، منځپانګه، پای، ستونزه، حللاره.<br>- صفتونه او حسي تفصیلات و کاروئ چې تجربې او پیښې په دقیقه توګه بیان کړي.<br>- ډول، ډول نښلونکي کلمې او عبارتونه وکاروئ چې د پیښو ترتیب سره برابر کړي.<br>- خبرې اترې او توضیحات وکاروئ چې تجربو او پیښو ته پرمختګ ورکړي یا د کرکټرونو ځوابونه حالاتو ته بیان کړئ.<br>- لیکنبي او د نقل قول نښې، د غږ نښه ( ندایه) په سمه توګه و کاروئ.<br>- د کیسي نقشي وکاروې چې نظرونه جوړ او مفهوم ترې واخیستل شي.<br>- په کیسه ویلو کې خلاقیت |
| مخکینی زده کړه | هیڅ |

## لومړی ورځ

نن چې کله تاسو د هغوی د خوښې کیسې وایئ ، تاسو به د کیسي ویلو بیلابیل عناصر بیان کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| | |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقي | ● د خپلې خوښې کیسې ته غوږ شئ یا یې ووایئ.<br>● که چیرته تاسو کومې کیسې ته لاسرسی نه لرئ، تاسو کولای شی هغه کیسه ولولئ چې په ضمیمه کې ځای پرځای شوې ده. والدین یا ښوونکي کولی شي د داسې یوې پیښې څخه دوی ته یادونه وکړي چې د هغوی په ژوند کې پیښه شوې وي. د بیلګې په توګه: د هغوی د زوکړې ورځ، میلمستیا، جشن او یا کومه بله میله. د دې قصې پر ځای دوی همدا راز کولی شي د کومې بلې کیسې په اړه چې دوی پرې پوهیږي زده کوونکو ته ووایې. |
| | په یوه کیسه باندې ښه فکر وکړئ. ځینې مرسته کوونکو ټکوو ته په لاندې برخه کې اشاره شوې ده:<br><br>- کوم څه دغه کیسه تاسو ته زړه پورې کړې ده؟<br>- د کیسې تر ټوله ښه برخه کومه وه؟<br>- د کیسې په هره برخه کې تاسو څه احساس درلود؟<br>- کوم څه تاسو کنجکاو کړئ چې پوه شئ نور به څه پیښ شوي وي؟<br>- د جوړښت او کرکټرونو اړوند تاسو څه خوښ کړل؟<br>- د کیسې پای لپاره به بل څه ډول پای وه؟ |
| ۱۵ دقیقي | په دې پیل وکړئ چې د کیسې ځینې اصلي عناصر وپیژنئ:<br><br>● د کیسې عنوان هماغه د کیسې نوم دی ( د بیلګې په توګه، (ګولډي لاکس) او(تري بیرز)<br>● د کیسې لیکوال، یعنې چاچې دغه کیسه لیکلې ده ( د مثال په توګه، رابرت سوتي)<br>● د کیسې کرکټر، چې د کیسې اصلي خلګ یا ژووي دي، لکه (ګولډي لاکس او تري بیرز)<br>● د کیسې جوړښت، چې د کیسې تفصیل پکې وي، لکه د ځای په اړه معلومات چې کیسه چیرته جوړه شوې ده. د مثال په توګه، کور کې – کوټه کې، د خوب کوټه کې یا داسې نور.<br>● نوې کلمې<br>● د کیسو او د هغوی د تجربو تر منځ اړیکې – آیا هغوی داسې څه چې د کیسې په کومه برخه کې پیښ شوي وي تجربه کړل؟ |
| ۱۵ دقیقي | ● وروسته له دې چې تاسو په لومړي ځل دغه کیسه واوریده، هغه عناصر ولیکئ چې تاسو په ګرافیکي جوړښت کې و پیژندل، لکه د کیسې نقشه ( د ګرافیکي جوړښت د بیلګې لپاره لومړې ضمیمه وګورئ)<br>● کوښښ وکړئ چې پوره جملې و لیکئ، لکه « د کیسې عنوان دادی ...» یا د کیسې لیکونکی ... دی.<br><br>که چیرته تاسو غواړئ، کولای شئ د کیسې برخې رسم کړئ. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | • د دویم ځل لپاره کیسه ولولئ یا ورته غوږ ونیسئ.<br>• داخل د کیسې پیل، منځ او پای ته پام وکړئ.<br>• د کیسې څخه وروسته، لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ:<br>د کیسې په پیل، منځ او پای کې څه پیښ شول او تاسو په دې اړه څه پوهیږئ؟ |

**دویمه ورځ**



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

د یوې یا دوو جملو په لیکلو سره چې د قیصې په پیل، منځ او پای کې څه پیښ شول، د قیصې نقشه پوره کړئ.

د بیلګې په توګه:

پیل: درې یږې قدم وهلو لپاره بهر لاړې.

منځ: په همدې وخت کې د سرو زرو پرې (ګولدي لاکس) د هغوی کور ته راغله. هغې هر څه وکتل، او بیا یې د هغوی خواړه وخوړل او د هغوی په کټ کې پریوته.

پای: درې واړه یږې بیرته کورته راغلې او هغه یې په خپل کور کې ولیده. هغه و ویریده او منډه یې کړه.

همدارنګه تاسو کولای شئ دغه برخې رسم کړئ.

لاندې بیلګه د پرې او یږو د قیصې نقشه ده.




۱۰ دقیقې

دا ووایئ چې د قیصې په اړه چې تاسو ولوسته یا مو واوریده کوم څه خوښ او کوم څه خوښ نه شول. ځینې معلوماتي پوښتنې دادي:

- آیا زړه پورې وه؟ کوم څه قیصه ډیره زړه پورې کړه؟
- د قیصې تر ټولو ښه برخه کومه وه؟
- د قیصې په بیلابیلو برخو کې تاسو څه احساس درلود؟
- آیا علاقمند وئ چې د بل څه پېښیدو باندې پوه شئ؟ ولې داسې فکر کوئ؟
- آیا کرکټرونو مو خوښ شول؟
- د قیصې جوړښت څومره اړین ؤ؟
- د قیصې د پای لپاره بله کومه ښه موضوع ؤ؟ که تاسو د قیصې لیکوال وئ، څه ډول مو دغه قیصه پای ته رسوله؟

نن به تاسو د خپلو کیسو په لیکلو یا انځورلو باندې پیل وکړئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| ورانديز شوى وخت | توضيحات او فعاليتونه |
| --- | --- |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | د هغوی د کیسي د بیلابیلو موضوع ګانو په اړه فکر وکړئ. د خپلو هیلو د پوره کیدو لپاره، د کیسي ویلو په لاندې فعالیتونو کې ګډون وکړئ:<br>- تاسو یا ستاسو د کورنی غړي به ۱۰ – ۱۵ د کور توکي په یو متوسط بیک کې کیږدئ ( په یو پلاستیکي، کاغذي یا د رخت بیک چې توکي پکې ښکاره نه شي) د مثال په توګه، یوه چمچه، د لوبو سامان، یو توپ، یو کتاب، د ورقو ښلونکی، یو ګل او داسې نور.<br>- له بیک څخه یو توکی را وباسئ بې له دې چې بیک ته وګورئ او د همغه توکي په اړه یوه کیسه جوړه کړئ. د مثال په توګه، که چیرته تاسو چمچه را پورته کړئ:<br>- کله چې کیسه وایئ، کوښښ وکړئ چې ښلونکي کلمې وکاروئ ( د ښلونکو کلمو د مثالونو لپاره دریمه ضمیمه وګورئ). او ښلونکي ضمیرونه ( څوک، د چا، چاته، کوم، څه) او قیدونه ( چیرته، کله، ولې) هم وکاروئ.<br>- تاسو کولای شي دغه بڼه وکاروئ: " لومړی، ..." " بیا، ...،" " او په پای کې، ..." تر څو د کیسي درې برخې ( پیل، منځ او پای ) تشریح کړئ.<br>- د امکان تر حده تشریحات ورکړئ او د خپلو کرکټرونو په اړه چې څه وایي فکر وکړئ.<br><br>د مثال په توګه، که چیرته تاسو یوه چمچه را پورته کړئ:<br>- ځلیدونکي چمچه: مایک ډیر خوښ ؤ ځکه چې ځوان سام یوازې ونیلا لرونکی آیسکریم او مستې له هغه سره وخوړې. مایک فکر وکړ" زه تل خوندور او ساړه شیان خورم."<br>- خو سام په ښوونځي کې د صحي خواړو په اړه څه زده کړي دي. هغه خوښ ؤ چې د شنوو ګلپیانو سوپ چې ډیر تود ؤ خوري یې. بې وځله مایک! هغه ویریده که چیرته دغه ډیر تود سوپ وخوري و به سوزي.<br>- په پای کې مایک سام ته وویل: " زه نه غواړم چې سوپ وخورم." د همدې لپاره، سام پریکړه وکړه چې سوپ پوف او سوړ کړي تر څو یې مایک وخوري. په پای کې مایک سوپ و څاکه او ګوري چې مالګه نه لري.<br><br>همدارنګه تاسو کولای شي دوه درې شیان را پورته کړئ او په ګډه یوه کیسه درې جوړه کړئ.<br><br>معلومات:<br><br>دغه معلومات کولای شي تاسو ته په پیل کې لارښودنه وکړي:<br>● ستاسو د کیسي کرکټر څوک دی؟<br>● ستاسو کرکټر څه ویني او څه اوري؟ |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| | • هلته بل څوک شته؟<br>• هغه ځای څه ډول دی چیرته چې دوی شتون لري؟<br>دغه معلومات کولای شي تاسو سره د کیسې په منځ کې لاربښودنه وکړي:<br>• ستاسو دکیسې کرکټر څه ستونزه لري؟<br>• بیا څه پیښ شول؟<br>دغه معلومات کولای شي تاسو سره د کیسې په پای کې مرسته وکړي:<br>- آیا د کیسې کرکټر کولای شوی چې ستونزه یې حل کړې وی؟<br>- دغې ستونزې ته حللاره څه وه؟ |
| ۱۰ دقیقې | • دا وضح کړئ چې د دغه تمرین په کولو سره کوم څه ستونزمن او کوم څه ساده وو؟<br>• د کیسې ویلو د جریان اړین عناصرهغه دي چې تاسو خپله کیسه د عنوان په انتخابولو سره پلان کړئ. ځینې ګټور معلومات په لاندې ډول دي:<br>- د خپلې خوښې دوو ژوو په اړه یوه کیسه ولیکئ.<br>- د خپلې خوښې جادويي ځیز په اړه یوه کیسه ولیکئ.<br>- یوه کیسه ولیکئ چې تاسو او تاسو ملګری یا ستاسو خور یا ورور پکې وي.<br>- یوه کیسه ولیکې چې ستاسو د خوښې فعالیت پکې وي. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقيقي | • هر هغه نظر چې تاسو يې لرئ رسم يا يې وليکئ ( تاسو کولای شئ " د نظرونو نقشه" انتخاب او وکاروئ – بيلګه يې په ضميمه کې وګورئ)<br><br>هيڅ بدې نظريې شتون نه لري! تاسو کولای شي د خپلو کيسو په اړه څو ځله فکر وکړئ.<br><br>لارښود: همدغه معلومات د بيک له فعاليتونو څخه وکاروي تر څو تاسو سره د ستونزو په وخت کې مرسته وکړي. په ټوله کې، په لاندې ټکو باندې فکر وکړئ:<br><br>- کرکټرونه مو څوک دي؟<br>- د هغوی نومونه څه دي؟<br>- جوړښت يې څه ډول دی؟<br>- څه پېښيږي يا ستونزه څه ده؟<br>- حللاره څه ده؟<br><br>• په لاندې موضوع ګانو ژور فکر وکړئ:<br>څنګه به پوه شئ چې کيسه کله پای ته رسيږي؟<br>څه فکر کوئ چې لوستونکي به ستاسو کيسي ته څه غبرګون وښيي؟<br>• خپل نظرونو د خپلې کيسي په اړه له هغوی سره يا د خپلې کورني غړو سره شريک کړئ او معلومات يې د هغوی د غبرګون پر بنسټ بيا کتنه وکړئ. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

نن به تاسو د هغوی د کیسي کار ته دوام ورکړئ او د کیسي بیلا بیلي برخي به وغځوئ. د دي کار لپاره تاسو باید په هغو کلمو فکر وکړئ چي ښه وضاحت ورکولی شي: صفتونه.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| | صفتونه هغه کلمي دي چي د خلکو او شیانو ځرنګوالی تشریح کوي.<br>د هغو صفتونو په اړه فکر وکړئ چي بیلابیل ځایونه، خلک، پیښي او شیان تشریح کوي. ځیني صفتونه یوازي د خلکو لپاره کارول کیږي، او ځیني د شیانو لپاره. د بیلګي په توګه «اوږد» یوه کلمه ده چي د خلکو او شیانو لپاره کارول کیږي، خو د جوړښت نه تشریح کوي. یوه ورقه په څلورو ساحو و ویشئ او له ۳ تر ۵ دغه کلمي ولیکئ.<br>۲۰ دقیقي |
| | ۱۵ دقیقي<br>بیا وروسته د قیصي هرې برخي ته درې پوره جملي ولیکئ (جوړښت او پیښه یا حلاره) ځیني هغه کلمي له لیست څخه وکاروئ چي تاسو پرې فکر کړی.<br>• جوړښت: بیلګه، هغه یو شین پارک له رنګینو ګلونو سره وه.<br>• اصلي پیښه یا حلاره: بیلګه، هغه وړی د طوفان د پیښو اتکل دیر ۆ. «روزي هغه ځوانه خور وه چي ښه نظریه یي درلوده» |

| هغه کلمي چي د ځایونو د تشریح لپاره کارول کیږي | هغه کلمي چي د خلکو د تشریح لپاره کارول کیږي |
|---|---|
| • ګڼه ګونه<br>• پراخه<br>•<br>• | • اوږد<br>• تکړه<br>•<br>• |
| **هغه کلمي چي د شیانو د پیښیدو د تشریح لپاره کارول کیږي** | **هغه کلمي چي د شیانو د تشریح لپاره کارول کیږي** |
| • حیرانوونکی<br>• ویرونکی<br>•<br>• | • رنګین<br>• کوچنی<br>•<br>• |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | |
| | |

| | |
|---|---|
| | مرحله: که چیرته تاسو کوښښ کوئ چې صفتونه ور ډیر کړئ، یوه جمله ولیکې او وروسته بیا اسمونه حلقه کړئ او له هر اسم څخه مخکې یوه کلمه ولیکئ چې د اسم په اړه توضیحات ورکړي. د بیلګې په ډول، که چیرته تاسو ولیکئ " یو پارک له ګلونه سره وه." او نوم وپیژنئ. بیا د پارک او ګلونو کلمې حلقه کړئ ځکه چې هغه دواړه نومونه دي. په پای کې د هغو کلمو په اړه فکر وکړئ چې پارک او ګلان تشریح کوي. تاسو کولای شئ دغه کلمې، لکه لوی، شین، ښایسته او داسې نورې وکاروئ. د پارک او ګلانو لپاره دغه صفتونه کارولی شئ؛ رنګین، کوچنی، ښکلی.<br><br>یو ځل چې توضیحات پوره کړئ، دا وسپړئ چې د کیسې هرې برخې ته کوم څه ور اضافه کولی شئ. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۲۵ دقیقې | د کیسې پیل: په دې فکر وکړئ چې لوستونکی او اوریدونکی به څه غواړي او تاسو کوم څه د کیسې په پیل کې شریکوئ. ځینې معلومات چې تاسو سره به دې اړه مرسته کوي:<br><br>● د دې لپاره چې دا لومړی ځل دی چې ستاسو لوستونکی ټول کرکټرونو سره مخ کیږي – تاسو له خپلو لوستونکو څخه د کرکټرونو په اړه کوم څه غواړئ؟<br>● په عادي توګه کرکټرونه څه کوي او د دوی د ژوند عادي ورځ څه ډول ده؟ ( د صفتونو، عملونه یا شیانو په اړه فکر وکړئ چې تاسو درلودل او د کرکټرونه ځانګړتیاوې یې رسولې. د بیلګې په ډول، کرکټر هر سهار په خپل وخت را پورته کیږي، یا کرکټر زیر ګلونه خوښوي، یا کرکټر وایي " سهار په خیر" هر وخت هغوی د قصاب پلورنځي سره قدم وهي، او داسې نور.)<br>● تاسو له خپل لوستونکي څخه څه غواړئ چې د کیسې د ځای او جوړښت په اړه پوه شي؟<br><br>د کیسې منځ: په دې فکر وکړئ چې لوستونکی او اوریدونکی به څه غواړي او تاسو کوم څه د کیسې په منځ کې شریکوئ. ځینې معلومات چې تاسو سره به دې اړه مرسته کوي:<br><br>● کوم څه به کیسه زړه پورې کړي تر څو لوستل یې دوام پیدا کړي؟ کیدای شي یوه غیر متوقعه پیښه وي.<br>● ستونزه یا پیښه به څه ډول وي؟<br>● په پیل کې به د دوی د ژوند له پیښو سره څومره توپیر ولري؟<br><br>● آیا جوړښت یې یو شان دی که بدل؟<br><br>د کیسې پای: په دې فکر وکړئ چې لوستونکی او اوریدونکی به څه غواړي او تاسو کوم څه د کیسې په پای کې شریکوئ. ځینې معلومات چې تاسو سره به دې اړه مرسته کوي:<br><br>● کوم څه به کیسه زړه پورې کړي تر څو لوستل یې دوام پیدا کړي؟<br>● کوم څیز کولای شي د کیسې ستونزه چې پیښ شوی ده حل کړي – حلاره به څه وي؟<br>● آیا جوړښت یې یو شان دی که بدل؟<br>● کیسه به څه ډول پای ته رسیږي او مونږ به څه ډول کرکټرونه پریږدو؟ |

**څلورمه ورځ**

کیدای شي نن به تاسو د کیسې د هرې برخې، لکه د پیل، منځ او پای کرکټرونو د افکارو او احساساتو په اړه توضیحات ورکړئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۵ دقیقي | د کرکټرونو د احساساتو په اړه فکر وکړئ چې څه ډول په ټوله کیسه کې بدلیږي. د احساساتو دلیل څه وو او کوم څیز دغه احساسات بدل کړل؟<br><br>Tip:<br>**لارښود:** که چیرته تاسو په دغه کار کې کوښښ کوئ، خپل ځان د کرکټرونو پر ځای قیاس کړئ او له خپلو ټولګیوالو، ورونو یا خویندو سره کار وکړئ. کله چې تاسو د هغوی د څرګندونو بدلون وینئ، ورته اشاره وکړئ. |
| ۲۰ دقیقي | • د مزاج یا حالت اندازه کولو پروسه جوړه کړئ چې د کرکټرونو اصلي احساسات د کیسي په پیل، په منځ او پای کې انځور کړي. یو څو اړین ټکي د دغو احساساتو په اړه په ترتیب سره ولیکئ. ( څلورمه ضمیمه وګورئ)<br>• د لیکلو په وخت کې صفتونه، غږ نښي (ندایه) او پوښتن نښي (سوالیه) وکاروئ.<br><br>په یاد ولرئ چې غږ نښه (ندایه) هغه وخت کارول کیږي چې یو څوګ خپل احساسات ښیي او په یو شي باندې ټینګار وکړي.<br><br>- هر یو ډیر خوښ وه او غوښتل یې چې په دغه لوبه کې له ټیمي سره ونډه واخلي او هغوی یو خوندرو وخت درلود!<br><br>په یاد ولرئ چې پوښتن نښه (سوالیه) هغه وخت کارول کیږي کله چې یو کرکټر وایي او یو څه معرفي کوي، د بیلګې په توګه:<br><br>- پلار را پورته شو او د ناستي په کوټه کې ګډوډي ویني. هغه وویل: " دا څه ګډوډي ده؟" |

**پنځمه ورځ**

نن به تاسو د هغوی کیسه د یو کتاب په بڼه یو ځای کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۵ دقیقي | تاسو کولای شئ ورقي تاو کړئ چې لږ تر لږه باید درې پاڼي ولري (یو مخ پیل ته – یومخ منځ ته – یو مخ پای ته) او د ورقي په پای کې د پاڼي شمیره ولیکئ. تاسو باید یو بله ورقه تاو کړئ چې د کتاب مخ او شټ ترې جوړ شي. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | • هرې برخې ته لږ تر لږه دوه پراګرافونه له پنځو جملو سره ولیکئ ( په هره پاڼه کې).<br>تاسو کولای شئ ځینې جملې له هغوغتو ټکو څخه انتخاب کړئ چې تاسو په دریمه او څلورمه ورځ لیکلې وې او د اړتیا په صورت کې کولای شئ نوې جملې ور اضافه کړئ.<br>• نښلونکي کلمې( دریمه ضمیه وګورئ)، غبږ توري، ټکي، پوښتن نښه (سوالیه)، ندایه، او ارتباطي ضمیرونه او قیدونه وکارئ. |
| ۵ دقیقې | د کتاب د نوم په اړه فکر وکړئ او خپل نوم د لیکوال په حیث د کتاب پر مخ ولیکئ. |
| ۱۵ دقیقې | تاسو کولای شئ د کتاب پر مخ رسامي وکړئ، شکل یې جوړ کړئ، او دکتاب پوښ ډیزاین کړئ. |
| ۱۵ دقیقې | • ستاسو کتاب اوس دې ته چمتو ده چې د خپلې کورنۍ غړو سره یې شریک کړئ او په لوړ غږ ولوستل شي. کیسه مو خپل والدینو ته وکړئ او په اړه یې له هغوی څخه نظر وغواړئ.<br>• د والدینو نظرونو به دا وي:<br>- د کیسې په اړه یې څه خوښ شول<br>- د کتاب په اړه یې څه خوښ شول<br>- د نورو کومو شیانو په اړه غواړي چې و پوهیږي<br>- کوم څه کولای شي وده وکړي |
| ۱۵ دقیقې | نظرونو ته په کتو، تاسو باید خپلې کیسې یا کتاب ته وده ورکړئ، او دا وواياست چې کوم څه مو ډیر خوښ شول او کوم څه ننګونکې وو. |

د ارزونې معیارونه

- د کیسې په داستان جوړولو کې نووښت
- د کیسې په نقشه او رسامۍ کې وضاحت او نووښت
- د لیکل شوی متن سادګي او بشپړتیا
- د ژبې ټول قوانین پلې کول ( ندايي، صفتونه او داسې نور.)
- د کیسې ترتیب
- په کیسه کې د ستونزې شتون او د هغې حللاره



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

د فعالیتونه اضافي بداینه

- زده کوونکي کولای شي نورې د خبرو برخې لکه قیدونه او لیکنښي لکه ټکی او چپه پېش (؛) د کیسي په لیکلو کې وکاروي.

- زده کوونکي کولای شي اضافه متن ولیکي

- زده کوونکي کولای شي وروستی پاڼه د کیسي په لنډیز سره جوړه او د خپلې کورنی غړو مرسته یې بیا کتنه وکړي. د بیلګې په توګه: پلار، " کیسه حیرانونکې وه." خور، " کیسه خندا لرونکې وه!" او داسي نور.

د آسانتیا لپاره بدلون

زده کوونکي کولای شي د کیسي په هره برخه کې یوازې یو پراګراف یا یو څو جملې ولیکي.
دوی کولای شي په رسامي اعتبار وکړي او له هغې وروسته کولای شي یوه معتبره برخه واضح کړي. د لیکنې په برخه کې ځینې زده کوونکو ته د لیکدود په برخه کې د لیکنښو لږ کاروني ته اجازه شته.

لومړی ضمیمه: هغه هلک چې لیوه ته یې ژړل

یو وخت یو هلک ؤ چې د کلي د پسونو له څریدا څخه په غونډیو کې ستړی شوی ؤ. د خپل وخت تیرولو لپاره یې داسي نارې وهلې، " لیوه راغی لیوه! لیوه پسونه خوري!"

کله چې کلیوالو د ژړا غږ واوریده، ټولو غونډۍ خواته منډه کړه چې لیوه وشړي. خو کله چې ور ورسیدل، هلته کوم لیوه نه ؤ. کله چې هلک د هغوی غصه ناک مخونه لیدل، خوند یې ترې اخیسته.

کلیوالو هلک ته ګوتڅنډنه وکړه، " هلکه، کله چې لیوه نه وي، نو لیوه، لیوه چغې مه وهه." له غصې ډک کلیوال بیرته له غونډۍ را کوز شول.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

وروسته بیا دغه شپونکي هلک په ژړا پیل وکړ، " لیوه راغی لیوه! لیوه پسونه خوري!" هغه د خپل وخت تیرولو لپاره، کلیوالو خواته کتل چې د غونډۍ په لوري منډې وهي تر څو لیوه وشړي.

کله چې هغوی وکتل کوم لیوه نشته، په تنده لهجه یې وویل، " خپله ویریدلې ژړا دې د لیوه تر راتګه وساته! او کله چې لیوه نه وي، نو چغې مه وهه!" کله چې کلیوال له غصه ډک بیرته له غونډې کوزیدل، هلک د هغوی په خبرو ملنډې وهلې.

وروسته هلک ریښتیا یو لیوه ولیده چې پټ، پټ رمې خواته ور روان دی. وویریده، خیز یې وواهه او په لوړ غږ یې په ژړا پیل وکړ، " لیوه! لیوه!" خو کلیوالو فکر کاوه چې دی بیا دروغ وایي، هیڅ یو مرستې ته ورنغی.

د لمر ناسته په وخت کې کلیوال لاړل چې د هلک په اړه پلټنه وکړي چې له پسونو سره بیرته نه وه راغلی. کله چې هغوی د غونډۍ سره ته وختل، هلک یې د ژړا په حال کې ولیده.


هلک په ژړا سره وویل: " دلته په ریښتیا سره یو لیوه ؤ! رمه و تریده! ما چغه کړه «لیوه» خو تاسو را نغلئ."


یو سپین ږیری سړی لاړه چې هلک په کرار کړي. د هغه په اوږه یې لاس کیښود او وې ویل، " هیڅوک د دروغجن په خبره باور نه کوي که څه هم هغه ریښتیا ووایي."



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

۲: د کیسي نقشه






EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## ۳: نښلونکي کلمي ۴: د مزاج اندازه کول

---

لومړی

پیل شو

دغه

وروسته له دې

په لړ کې

په پای کې

بالاخره

ژر

ډېر ژر

په پایله کې

---

بې له ځنډه

لومړی

دویم

یو ځل

په همدې وخت کې

وروسته بیا

په پیل کې

وروسته له یو څه مودې

کله چې مونږ پای ته ورساوه

وروستی څیز

له هغې وروسته

مخکې له ځنډه

وروسته له یو څو دقیقو

کله چې مونږ سرته ورساوه

ډېر ژر

بیا

---

وروسته

ډېر ژر

مخکې

پیل شوی

بل

په پیل کې

اوس

کله

دفعتاً

برسیره پردې

وروستنی

د پای

د دې لپاره

نا څاپه

لکه

که څه هم

هر کله

ژر



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

# ضميمه

د مزاج اندازه کول

| پیل | منځ | پای |
| --- | --- | --- |
| • ____ | • ____ | • ____ |
| • ____ | • ____ | • ____ |
| • ____ | • ____ | • ____ |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7